**بسم الله الرحمن الرحيم**

# کله چې شپون دښمن وي، له لېوه څه ګیله ده!؟

**(ژباړه)**

**خبر:**

د امت یوه برخه د غزې په شمال کې له لوږې مري او بله برخه يې په الحرمين خاوره کې د ناکام مديريت له امله ژوند له لاسه ورکوي. دا هغه دوه خبرونه دي، چې ثبوت ته اړتيا نه لري؛ ځکه واقعيتونه پخپله ډېرى ناويلي حالات بيانوي.

**تبصره:**

د دغو دوو خبرونو په اورېدو سره ښايي يو څوک ووايي، چې اوبه له غوړيو سره مه ګډوئ؛ د غزې او مکې تر منځه څه اړيکه ده؟ همدارنګه د غزې د خلکو د لوږې او د سختې ګرمۍ له امله د حاجيانو د مړينې تر منځ څه اړيکه ده!؟ هغه دليل چې د غزې او مکې او د دغو دواړو د ستونزو تر منځ تړاو رامنځته کوي، همغه دليل دی چې هغوی له سوډان، سوريې او نورو اسلامي خاورو سره تړي. دا دليل هغه عقيدوي اړيکه ده، چې زړونه يو کوي او موږ يې په فلسطين کې د شام، سوډان او عربي جزيرې د وضعيت په تړاو له درد او رنځ سره مخ کړي يو.

هو، دا همغه عقيده ده چې زموږ مصيبت يې د لبنان، اردن، مصر او مراکش پر مصيبت بدل کړی دی او همدې عقيدې ټول دغه زړونه پر يوه واحد زړه بدل کړي دي، ترڅو د دغه ځورېدلي امت لپاره نږدې راتلونکي نصرت ته په درزا شي او د دې لامل شي چې د يوه واحد او ورور امت په توګه په مصيبت او غم کې سره يو ځای شو. ايا تر دې لويه بلا شته چې عقيده مو ورکه وي او د ژوند له چارو څخه مو د الله سبحانه وتعالی شريعت ايستل شوی وي؟

د دغو ټولو ستونزو اصلي دليل پر دغه واحد امت د خاينو او ناوړو رهبرانو حکمراني ده، چې نه يې د چا غږ واورېد، نه يې مظلوم ته لاس ورکړ، نه يې د دښمن مخه ونيوله او نه يې هم د الله سبحانه وتعالی په اطاعت کې مخلصينو ته نصرت ورکړ.

په غزه او په ټوله کې د قدس په خاوره کې د يهودو ظلم، په سوډان کې د ظالمانو ظلم او هغه څه چې روس د سوريې له خلکو سره وکړل، يعنې د ماشومانو او نرانو له سوځولو نيولې بيا تر هر ډول بې‌عزتيو پورې ټول د حيرانتيا وړ نه دي؛ ځکه دوی د اسلام او مسلمانانو دښمنان دي او دغه ډول کړنې يې په خټه کې نغښتې دي. خو په الله قسم کوم څه چې د حيرانتيا وړ دي، هغه د قدرت د څښتنانو بې‌غيرتي او بې‌تفاوتي ده چې خپلو وروڼو او امت ته نصرت نه ورکوي!

د عربي جزيرې علماوو د روان کال د حاجیانو لپاره د سعودي رژیم د ناوړه مدیریت او ناورین په اړه د حیرانتیا وړ چوپتیا غوره کړې، چې د سختې ګرمۍ له امله په سلګونو کسانو ژوند له لاسه ورکړی دی! په خپل اصلي مسولیت کې د امت د علماوو ناتواني د حیرانتیا وړ ده؛ د دوی مسولیت دا دی چې خلک او عامه افکار باید تحریک کړي ترڅو له غزې سره د مرستې لپاره پوځونه په حرکت راولي او ظالم حکام له واکه ګوښه کړي؛ هغه غزه چې له ۹ میاشتو راهیسې په یوازې ځان د صهیونیستي رژیم مقابله کوي. لکه څنګه چې عز بن عبدالسلام د مصر لښکر روان کړ، ترڅو شام له تاتاریانو څخه وژغوري. همدارنګه د خپلو حکامو پر وړاندې د امت ناتواني او چوپتیا د حیرانتیا وړ ده او هره ورځ ګوري چې د اوسنیو ټولو مصیبتونو او پرله‌پسې بلاوو دلیل همدوی دي!

﴿**إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ**﴾ [أنبياء: 106]

**ژباړه:** *په دې کې د عبادت کوونکو لپاره یو لوی خبر دی!*

**لیکوال: بیان جمال**

**ژباړن: صهیب منصور**

**د ۱۴۴۵هـ.ق کال، د ذي الحجې ۱۷مه یکشنبه**

**د ۲۰۲۴م کال د جون له ۲۳مې مطابق**